پوهنمل حاجی محمد نوزادی

۲۰۱۸/۰۷/۳۰

# د افغانستان کانونه د سوکاله ژوند سرچینې

(لومړۍ برخه)

د جرمني هیواد د کولن په ښار کې د ۲۰۱۸ کال د جولای په ۲۱ نیټه د افغانستان د ملی تحریک په نوښت په اروپا کی د میشتو افغانانو لخوا تر **( افغانستان نن او سبا )** سرلیک لاندي یو علمي سیمینار را بلل شوی او په مننې سره باید ووایم چې د سیمینار سمبالونکو ماته هم د ګډون بلنه راکړی وه . په سیمینار کې د بحث او مقالو لوستلو د پاره یو شمیر په زړه پوري موضوعګاني ټاکل شوي وې چې د سیمینار د سرلیک سره یې سر خوري . د سیمینار د موضوعګانو له ډلې نه یوه موضوع یې هم ( د هیواد د طبعي زیرمو سمه کارونه ) وه . دا چې زه د کانو او ځمکی پیژندني د شاګردۍ ویاړ لرم ، و می پتیئل چې پدی برخه کي د هیواد د ځمکی لاندي طبعي زیرمو ( کانونو ) او د هغوي د سمي کاروني په هکله څه لنډ غوندی مالومات د سیمینار د ګډونوالو او ددې برخې د مینه والو هیوادوالو سره شریک کړم.

د افغانستان کانونه چې پخوا مې یې هم په هکله لیکني کړيدي ، پدې وروستیو کلونو کې کله ناکله د هیواد دننه او بهر رسنیو د لومړی مخونو موضوع ګرځیدلی ده ، زه په دقت سره څارم . دا ځکه چې ما د وظیفوی مکلفیت له مخی د کابل پولي تخنیک انستیتوت چې اوس یو پیاوړی پوهنتون دی ، د استادی پر مهال د دغو زیرمو سره سر و کار درلود او همدارنګه د کانو او صنایعو وزارت د کانو او جیولوجي د سروې رئیس په توګه مې د ټول افغانستان په کچه د کانو د لټولو او اکتشافي چارو مسئولیت پر غاړه درلود . په همدې خاطر مې سیمینار ته د وړاندي کولو په موخه ددغی موضوع په اړه خپل د تیرو لیکنو څخه په ګټه اخیستلو سره د یوې لنډې لیکنې تابیا و نیول . ددې لیکنی څخه مې موخه دا نده چې د افغانستان د کانو په اړه یوه علمي څیړنه و کړم ، بلکه غواړم د عامو پوهاویو په کچه د هیواد په نن او سبا کې د هیوادوالو د سوکالی د پاره د کانو رول څرګند کړم . البته ددې د پاره چې لیکنه د تولو د پاره د پوهیدلو وړ و ګرځي ، زه به کوښښ وکړم چې د بیخي ډیر اړین حالت نه پرته ددې برخې د پیچلي مسلکی ترمینالوژۍ څخه تیر شم .

کله چې د یوه هیواد د طبعي زیرمو په اړه خبره منځته راځي ، په ظاهره داسی ښکاری چې ګویا دا یوازی یوه اقتصادی موضوع ده او بس. خو دا مقوله باید هیڅکله هم له یاده و نه باسو چې **« سیاست د اقتصاد یوه کښیکښلی ( فشرده ) بڼه ده .** نو غواړو یا نغواړو ، مجبور یو دې موضوع ته په یوه یا بل شکل د سیاست سره هم تړاو ورکړو

د افغانستان د کانونو موضوع د ۲۰۱۰ کال راهیسي په کور دننه او یو په بل پسی د نړیوالو رسنیو د مهمو خبرونو سرخط ګرځي. دا خبره هغه وخت منځته را ولویده چې د امریکا یوې مشهوری ورځپاڼي چې فکر کوم واشنګټن پست به وو ، د یو زر میلیارډ ډالرو په ارزښت د افغانستان تر ځمکی لاندي زیرمو د شتون خبر خپور کړ. نوموړي ورځپاڼي دا خبر د پنتاګون ( دفاع وزارت ) د جیولوجستانو د څیړنو د راپور له مخي چې په افغانستان کي یې پدی اړوند یو لړ کارونه تر سره کړي وه، نشر ته سپارلی وو . هلته لیکل شوی وه چې **« د افغانستان غرونه او دښتونه یو ربښتینی طلایي کان دی، د دې هیواد تر ځمکي لاندي د نورو مهمو کانو تر څنګ په لویه پیمانه د اوسپني، مسو، کوبالت، طلا او لیتیوم زیرمی شتون لري . لیتیوم یو ډیر ارزښت لرونکي فلز دی چې له هر څه نه زیات یې په بطریو کي کارول ورځ تر بلي پراختیا مومي »** . په راپور کي دا هم ویل شوی دي ، لکه څنګه چې سعودی عربستان د تیلو په بحر کي لاهو دی او له دې کبله یې نړیوال شهرت لري ، افغانستان به د لیتیومو د استخراج له مخي همدومره شهرت و مومي اود لیتیومو عربستان به شي.

ډیری کتونکی دا د تعجب او حیرانتیا وړ خبره بولي چې پنتاګون د څه پخاطر د جنګ پدغه حساس وخت کي دا راپور خپور کړ. همدغی خبری د څیړونکو تر منځ بیلابیل غبرګونونه را و پارول . ځینو لودیزوالو څیړونکو دي موضوع ته په سربیرن ډول یوازی په اقتصادی سترګه و کتل او دا یې له اقتصادي پلوه یو په زړه پوری خبر و ګاڼه او لدې لاری یې د موضوع په تبلیغ او خپرولو کی ونډه واخیسته . ځینو بیا د سیاسی موخو په پام کی نیولو سره دا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

خبره و شنل . ډنمارکي رسنيو هم دلته په ډنمارک کي دا خبره د راز راز سرچينو په حواله پرله واړول را واړول .
د بيلګي په توګه د جيم ليوني پنامه د ( ای پي اس ) خبری اژانس يو ژورناليست وايي چي د دغو معدنو کشف خو د تيري پيړی د اتيايمو کلونو لاسته راوړنه ده چي د شوروي اتحاد کان پيژندونکو په مټ تر سره شويده . د نوموړو کارونو پايلي په ۲۰۰۷ کال کي د امريکا د جيولوجيکي خدمتونو د انستيتوت لخوا او همدارنګه د برتانيا د جيولوجيکي څيړنو په مجله کي هم په ډاګه شويدي ، بيا نو د څه پخاطر پدې وخت کي دومره پام ور اړول کيږي ؟ د مارک امبينډر په نظر چي د اتلانتيک په مجله کي يې څرګند کړيدي ، دا د پنتاګون د تبليغاتي لوبو يوه برخه ده چي پدغه وخت کي يې د افغانستان کاني شمني د نړيوالو رسنيو ږيږه سرليکونه و ګرځول .
لکه څنګه چي ياده شوه ، پدې لوبه کي د پنتاګون سره يو ځای لويديزوالو هم لويه ونډه واخيستل . ډنمارکی رسنيو هم خپله ونډه ادا کړه او ژورناليست جيم ليوبي چي پدې ډله کی يې موضوع ته لږ غوندي په ژوره کتلي ، دهغه په حواله ليکي چي پنتاګون دا موضوع پدې خاطر را منځته کړيده چي د روان منفور جنګ دعامه ذهنيت پام بلي خواته واړوي او د دوام د پاره يې د خپلو خلګو څخه يو څه نور فرصت او وخت تر لاسه کړي . دی ليکي :
**« اخيرنيو ټولپوښتنو و ښوده چي امريکايان نور د واشنګټون د دغو پريکړو ملاتړ نه کوی چي د جنګي حل لاری ته بايد دوام ورکړل شي . واشنګټن اود ناټو انډيوالان يې اوس ډير لږ وخت لري چي خپل خلک پدې قانع کړي چي د طالبانو په وړاندي د دوی ستراتيژی اغيزمنه او کاري ده . دی زياتوی چی د افغانسان د معدني زيرمو په اړه د پنتاګون تبليغات ددې د پاره دی چي خپلو خلګو ته دا وښئي چي پدې جنګ کي زموږ درانه لګښتونه بيځايه نه ځي اود طالبانو ماتول هم دا ګری يوازی او اصلی موخه نده بلکه د افغانستان معدني شتمنيو ته لاسرسی هغه څه دي چي بايد په ستراتيژيکي موخو کی له پامه و نه غورځول شی » .**
زه پخپله هم سره لدې چي د نوموړي ژورناليست ددغه نظره سره همږغی يم چي په افغانستان کي د کاني زيرمو شتون څه نوی خبره نده او سره لدې چي دا ډار هم را سره شته چي ددغو زيرمو شتون به خدای مکړه د روان جنګ پر اور باندي غوړي توي کړي ، خو خوشبين نظر او اپتيميزم تل په شر کي خير لټوی . ځکه نو زه پدې کار کي يو مثبت ټکی هم وينم او پدې خاطر يې ګټور بولم چي د نړی د پانګوالو پام يې د افغانستان و کانو ته را واړاوه او هغوی يې پدې باندي داډه کړل چی هلته په ريښتيا هم هغه څه شته چي په پانګي اچوني او لګښتونو باندي ارزي . دا زيرمي که هر څومره ستري هم وي ، خو تر څو چي استخراج نشي ، هيڅ ګټه ور څخه تر لاسه کولای نشو . د لويو کانو را ايستل بيا ولويي پانګوني ته اړتيا لري چي افغاني جنګ ځپلي بودجي لا له بده مرغه تر اوسه پوري د دومره لويو لګښتونو توان ندي پيداکړي . د نړيوالو پانګو را ماتول بيا دومره ساده او اسانه کار ندی . نړيوال بايد د پانګوني په موخه پدې باندي ډاډمن کړل شی چي د اړوند کان د استخراج د پاره پانګه اچونه بيځايه نده . که ما غوندي د هيواد سلګونه متخصيصين هره ورځ په ساعتونو دتلويزيوني کامرو مخته کښيني او زر سوګندونه وخوری او پوره علمي دلايل هم وړاندی کړی چي موږ پريمانه معدني زيرمی لرو ، د نړی پانګه وال به تر هغه وخته دا و نه منی څو خپل ماهران يې راغلي نه وی او دلته يې اړيني څيړني تر سره کړی نه وي . مګر د پنتاګون د جيولوجستانو نظر دوی ته په ټوله مانا د ډاډ وړ دی . که د امنيت له پلوه لږ و ډير ډاډ تر لاسه کړی ، پانګي اچوني ته ليوال کيږي . لنډه دا چي دا هغه خير دی چي په روان شر کی لټول کيدلای شي .
د لومړۍ برخي پای . نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ